UNAMA
د ملګرو ملتونو د مرستو د پلاوي دفتر د افغانستان لپاره
د ستراتيژيکو اړيکو او وياند دفتر، کابل، افغانستان
مطبوعاتی اعلاميه
http://unama.unmissions.org

**په ۲۰۱۳ کال کې د افغانستان په وسله واله جګړه کې د ملکي تلفاتو شميره ۱۴ سلنه زياته شوې ده**

***کابل، د ۲۰۱۴ کال د فبروري اتمه نيټه:*** نن د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي "په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنې" په نوم د ۲۰۱۳ کال کلنی راپور خپور کړ او وويل چې ۲۰۱۳ کال کې د افغانستان په وسله واله جګړه کې د ملکي تلفاتو شميره ۱۴ سلنه زياته شوې ده. دا راپور د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالي کمشنرۍ دفتر په همغږۍ چمتوشوی دی.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی ( يوناما ) په ۲۰۱۳ کال کې ۸،۶۱۵ ملکي تلفات ( ۲،۹۵۹ ملکي وګړو مړينه او۵،۶۵۶ ټپيان) ثبت کړي، چې د ۲۰۱۲ کال د همدغې مودې په پرتله په مړينو کې ۷ سلنه او په ټپي کيدنو کې ۱۷ سلنه زياتوالی په ګوته کوي.

په ۲۰۱۳ کال کې د افغانستان وسله والې جګړې له امله د ملکي خلکومرګ ژوبله کې ډير والی د ۲۰۱۲ کال ملکي تلفاتو د کموالي په خلاف په شاتګ دی، خو د ۲۰۱۱ کال د تلفاتو کې ډيروالي سره ورتوالی لري. د ۲۰۰۹ کال د پيل څخه په افغانستان کې وسلوالې جګړې د ۱۴،۰۶۴ ملکي افغانانو ژوند اخيستی دی او په زرګونو يې ټپيان کړي دي.

په راپور کې راغلي چې که څه هم په ۲۰۱۳ کال کې د دولت ضد عناصرو[1] له خوا ځای پر ځای شوي چاوديدونکو توکو تر ټولو ډير ملکي خلک وژلي، خو د دولت پلوه او د دولت ضد عناصرو ترمنځ ځمکنيو نښتو ډيروالی د ملکي خلکو د تلفاتو دويم لامل دی، چې په متقابلو ډزو کې د افغان ملکي خلکو مړينه او ټپی کيدنه لوړه شوې ده. دا دواړه لاملونه دي چې په ۲۰۱۳ کال کې د ملکي خلکو تلفاتو کې يې ډيروالی راوستلی دی.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازي او د يوناما مشر ښاغلي يان کوبيش وويل: "په ۲۰۱۳ کال کې د افغانستان وسلوالې جګړې ملکي خلکوته پرله پسې تلفات اړولي دي. د دولت ضد عناصرو ځای پر ځای شوي چاوديدونکو توکي ډير کارولي دي چې په زرګونو ملکي افغانان يې مړه او ټپيان کړې دي. ډيرې ځمکنۍ نښتې او د متقابلو ډزو په کورونو او ټولنو کې د ډيرو ملکي افغانانو د مړينې او ټپي کيدنې لامل شوې دي. د ۲۰۱۴ کال په پيل کې د جګړې ښکيلو خواو په ځانګړې ډول دولت ضد عناصرو لپاره دا اړينه ده چې پرملکي افغانانود جګړې ناوړې اغيزې ودروي."

---

[1] د دولت ضد په عناصرو کې ټول هغه اشخاص او ډلې شاملې دی چې اوس مهال د افغانستان د دولت او نړيوالو نظامي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکيل دي. هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پيژندل شوي او هغه اشخاص او ډلې چې بيلا بيل هدفونه لري او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه، حزب اسلامي او د ازبکستان اسلامي حرکت، او نورې مليشې او وسله والې ډلې چې سياسي ، ايدولوژيکي او اقتصادي اهداف تعقيبوي يا نوري جرايم پيشه ډلې چې په جګړه کې د يوې ښکېلې خوا په استازيوب ګډون کوي په دغوعناصرو کې راځي.

په دي راپور کې په ۲۰۱۳ کال کې د ملکي وګړو د تلفات ۷۴ سلنه دولت ضد عناصرو ته، ۱۱ سلنه يې دولت پلوه ځواکونو ته (اته سلنه افغان امنيتي ځواکونو ته او درې سلنه يې نړيوالو ځواکونو ته) او لس سلنه يې بيا د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ نښتو ته منسوب شوي دي[۲]. پاتې پنځه سلنه ملکي تلفات هيڅ يو لوري ته ندی منسوب شوي او ډيری دغه تلفات د جګړې د چاوديدونکو پاتې شونو په پايله کې رامنځ ته شوي دي.

د يوناما راپور موندنې څرګندوي چې ځای پر ځای شوي چاوديدونکو توکي چې د دولت ضد عناصرو له خوا کارول شوي، د ټولټال ملکي تلفاتو ۳۴ سلنه جوړوي او دې پسې د دواړو ښکيلو خواو د مځکنيو نښتو له امله ۲۷ سلنه ملکي خلک مړه او ټپيان شوي دي.

د دولت ضد عناصرو په ځانمرګو او ډله ييزو بريدونو کې۱۵ سلنه او په هدفي وژنو کې ۱۴ سلنه ملکي خلکو ته مړينه او ژوبله واړوله. په ۲۰۱۳ کال کې يواځې د ځواک د خوندي ساتنې او قوې کارونې او دتلاشی د عملياتو په ترڅ کې څلور سلنه، له جګړې څخه چاوديدونکي پاتې شونو له امله څلور سلنه او د نړيوالو ځواکونو د هوايي عملياتو له کبله دوه سلنه ملکي تلفات را منځته شول.

**ښځې او ماشومان**

د يوناما راپور موندنې په ګوته کوي چې ۲۰۱۳ کال افغانو ښځو، نجونو او هلکانو ته تر ټولو بد کال وو ځکه چې د رواني جګړې له پيل نه دوي ته ډيره مرګ او ژوبله واوښته. يوناما د ښځو۷۴۶ تلفات (۲۳۵ مړينه او ۵۱۱ ټپي کيدنه) مستند کړي دي، چې دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۳۶ سلنه زياتوالی په ګوته کوي. د دولت ضد عنا صرو له خوا ځای پر ځای شوي چاوديدونکو توکو د ۲۰۱۳ کال په وسلواله جګړه کې يو وار بيا ډيرې ښځې ووژلې چې ۱۷۷ ښځو ته يي مرګ ژوبله ورواړوله (۸۶ مړينه او ۹۱ ټپي کيدنې) او دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۲۰ سلنه زياتوالی را په ګوته کوي. مځکنيو نښتو بيا ډيرې ښځې ټپيانې کړې او په ۲۰۱۳ کال کې د ښځو ډير تلفات د مځکنيو نښتو پيښنو له امله منځ ته راغلل.

يوناما د ماشومانو ۱،۷۵۶ تلفات (۵۶۱ مړه او ۱،۱۹۵ ژوبل) مستند کړي دي، چې دغه شميره د ۲۰۱۲ کال په پر تله ۳۴ سلنه لوړه ده. د ځای پرځاي شويو چاوديدونکو توکو له امله تر ټولو ډيرو ماشومانو ته زيان ورسيد چې ۱۹۲ يي ووژل او ۳۱۹ يي ټپيان کړل ( ټولټال ۵۱۱ د ماشومانو تلفات)، چې دغه شميره د ۲۰۱۲ کال په پر تله ۲۸ سلنه لوړه ده. د ځمکنيو نښتو په ترڅ کې ۱۳۷ ماشومان وژل شوي او ۵۰۴ يي ټپيان شوي دي، چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۵۹ سلنه ډيروالی په کې راغلی دی. د ځمکنيو نښتو په ترڅ کې تر ټولو ډير ماشومان ټپيان شوي دي.

د يوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې جيورجيټ ګنيا وويل: " دا په تيره ډيره د انديښنې وړ خبر ده چې په ۲۰۱۳ کال کې د افغانو ښځو او ماشومانو د وژل کيدو او ټپي کيدنې شميره يو وار بيا لوړه شوې ده. دا يو تريخ حقيقت دی چې ډيرو ښځو او ماشومانو ته د ورځنۍ چارو په وخت لکه په کور کې، ښوونځي ته په لاره، پټيو کې د کار کولو په وخت او يا د غم او خوشالۍ په پيښنو کې د ګډون لپاره د تګ

[۲]دولت ضد عناصر : په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې اوس مهال د افغانستان د دولت او نړيوالو نظامي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکيل دي. هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پيژندل شوي او هغه اشخاص او ډلې چې بيلا بيل هدفونه لري او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه، حزب اسلامي او د القاعده متحدين لکه د ازبکستان اسلامي حرکت، د اسلامي جهاد اتحاد، لشکر طيبه او جيش محمد او نورې مليشې او وسله والې ډلې چې سياسي ، ايدولوژيکي او اقتصادي اهداف تعقيبوي يا نوري جرايم پيشه ډلې چې په جګړه کې د يوې ښکيلې خوا په استازيوب ګډون کوي، په دغوعناصرو کې راځي.

په وخت کې ورته مرګ ژوبله رسيدلې ده. اوسنی حالت په جګړه کې ښکيلو خواو نه غواړي چې پخه ژمنه وکړي او ډيرکوښښ وکړي چې د جګړې له تاو تريخوالي نه ښځې او ماشومان وساتي."

**دولت ضد عناصر**

د يوناما راپور موندنې په ګوته کوي چې د دولت ضد عناصرو په قصدي ډول په ټول هيواد کې ملکيان هدف ګرځولي او ملکي خلکو ژوند ته د پاملرنې پرته يې بريدونه کړي، چې ۶،۳۷۴ ملکي تلفات (۲،۳۱۱ ملکيانو مړينه او ۴،۰۶۳ ټپي کيدنه) منځ ته راغلي ، چې دا د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۴ سلنه ډيروالی په ګوته کوي.

د دولت ضد عناصرو له توپير پرته ځای په ځای شوي چاوديدونکو توکي په ۲۰۱۳ کال کې ډير وکارول اود ملکيانو د مرګ ژوبلې مخکښ لامل و. يوناما د ځای پرځای شوي چاوديدونکو توکو له امله د۲،۸۹۰ ملکيانومرګ ژوبله (۹۶۲ مړينه او۱،۹۲۸ ټپی کيدنه) ثبت کړې ده، چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۱۴ سلنه لوړوالی په ګوته کوي.

د ځای پرځای شوي چاوديدونکو توکو په ډله کې د يوناما موندنې په ګوته کوي چې د ليرې څخه کنترول کيدونکو چاوديدونکو توکو له امله د ملکي وګړو په مرګ ژوبله کې ۸۴ سلنه ډيروالی او د فشاري چاوديدونکو توکو له امله ۳۹ سلنه کمښت راغلی دی. دولت ضد عناصرو په عامه ملکي ځايونو لکه سړکونو، مارکيټونو، دولتي دفترونو، د ښوونځيو د ننه او يا شاوخوا او د بسونو په تم ځايونو کې تعبيه شوي چاوديدونکي توکي چوولي دي.

ځانمرګو او ډله ييزو بريدونو د ۲۰۱۳ کال کې په ۷۳ پېښو کې ۱،۲۳۶ ملکي وګړو ته تلفات (۲۵۵مړينه او ۹۸۱ ټپي کيدنه) اړولي دي. سره له دې چې د پېښو تعداد ۲۰۱۲ کال ته ورته دی ، خو د دې بريدونو له امله د تير په پر تله په ملکي تلفاتو کې ۱۸ سلنه ټيټوالی راغلی دی .

ټول ځانمرګي او ډله ييز بريدونه په ۲۰۱۳ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۵ سلنه جوړوي.

راپور کې د هدفي وژنو پېښو په پايله کې د ۱،۰۷۶ ملکي وګړوتلفات ( ۷۴۳ مړينه او ۳۳۳ ژوبل شوي) مستند کړي دي، چې د دولت ضد عناصرو په کې ډير دولتي چارواکي او کارکوونکي ، قومي مشران، د عدليي چارواکي ، قبايلي مشران، د ټاکنو کار کونکي ، او د سولې پروسې ملاتړ کوونکي په نښه کړي او وژلي دي. د دولت ضد عناصرو لخوا ديني عالمانو باندې بريدونه له دې امله چې دوي د دولت ملاتړ کوي ، په ۲۰۱۳ کال کې په جوماتونو او عالمانو دا ډول بريدونه درې چنده ډير شوي دي.

يوناما د ۲۰۱۳ کال په اوږدو کې د طالبانو لخوا د ملکي تلفاتو د په اړوند د ډيروعامو پيغامونو خپريدل مشاهده کړي. حال دا چې په حقيقت کې د ملکي افغانو په حالت کې هيڅ تغير نه دی راغلی. طالبانو ډير تعبيه شوي چاوديدوونکي توکي وکارول او په ملکي وګړو باندې يې بريدونو ته دوام ورکړ.

د يوناما راپور کارې چې طالبانو په ۲۰۱۳ کال کې د ۱۵۳ هغه بريدونو مسؤليت په غاړه اخستی چې ۹۴۴ ملکي وګړو ته يې په کې مرګ ژوبله (۳۰۲ مړينه او د ۶۴۲ ټپي کيدنې) اړولې ده ، چې د طالبانو دمسؤليت ادعاګانو کې ۲۹۲ سلنه ډيروالی په ګوته کوي او ۲۰۱۲ کال په پرتله د طالبانو د مسؤليت ادعاګانو کې ۱۳۶ سلنه ډيروالی ښيي . د طا لبانو داسی ډيری بريدونو کې د توپير پرته

تاکتیکونه کارول شوي لکه په عامه ځایونه کې د تعبیه شوې وسیلې چوولې دي یا نیغ په نیغه یې ملکي خلک او یا هم ملکي شیان هدف ګرځولي ،او په ځانګړی ډول د دولت ملکي مامورین او دولتي ځایونو باندی یې برید کړی دی.

یوناما په دی تاکید کوي چې په ملکي خلکو باندې د توپیر پرته بریدونه او هغوی په قصدي ډول هدف ګرځول د نړیوال بشردوستانه قانون له مخې په جدی ډول ممنوع دي، او د افغانستان په شخړه کې ښکېلی خواوې د طالبانو په شمول بې په اطاعت مکلف دي . په ملکي خلکو برید ، د علماؤ، د ټاکنو کارکونکو ، قبایلي مشرانو او نورو هغه خلکو وژل چې په جګړه کې مستقیمه برخه نه اخلي ممکن جنګي جنایت وګڼل شي.

دافغانستان لپاره دملګروملتونودسرمنشي ځانګړی استازي ښاغلي یان کوبیش وویل:" د طالبانو د مشرتابه له خوا د ملکي وګړو ساتنې په اړوند بیانیې د بې ګناه افغان ملکي وګړو مرګ ژوبلې ته د پاي ټکي کیښودلو لپاره کافي نه دي. هغه څه چې له طالبانو نه یې غوښتنه کیږي دا دي چې دوي په ملکي وګړو قصدي بریدونه او له توپیر پرته د تعبیه شویو وسیلو کارول بند کړي او همدارنګه دوي د " ملکي وګړي" اود قانوني په نښه کیدلو ځایونو په تعریف کې تغیر راولي چې د نړیوال بشردوستانه قانون سره یې تعریف مطابقت ولري."

**دولت پلوه ځواکونه**

د یوناما راپور په ۲۰۱۳ کې د ۹۵۶ ملکي وګړوتلفات (۳۴۱ مړینه او ۶۱۵ ټپي کیدنه) ټولو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي دي، چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۵۹ سلنه ډیر والی په ګوته کوي. داچې افغان امنیتي ځواکونو مځکنۍ عملیات زیات کړي دي نو له همدې امله د ملکي وګړو تلفاتو کې هم زیاتوالی راغلی دی.

د هغو تلفاتو چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا ملکي وګړو ته رسیدلی ، ۵۷ سلنه یې افغان ملي امنیتي ځواکونو، ۲۷ سلنه نړیوال نظامي ځواکونو او۱۶ سلنه ګډو عملیاتوته منسوب کړې ده. د ۵۷ سلنه ملکي تلفات چې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي دي، ډیر ملکي تلفات د هغو مځکنۍ عملیاتو له امله منځ ته راغلی چې افغان ملي امنیتي ځواکونو یې مشري کوله او په کې ۳۴۹ ملکي وګړو (۸۸ ملکیانو مړینه او ۲۶۱ ټپي کیدنه) ته تلفات رسیدلي دي، چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۲۶۴ سلنه ډیروالی په ګوته کوي.

دا چې افغان ملي امنیتي ځواکونو په رهبرۍ کې په ټول هیواد کې نظامي عملیاتونه سرته رسیږي، یوناما په دې ټینګار کوي چې هغه لارښودونې او جنګي مقررات چې د ملکي خلکو د خوندیتوب واک په کې ورکړ شوی، باید په ښه ډول پلي شي او د دفاع او کورنیو چارو په وزارتونو کې داسې دایمي جوړښتونه منځ ته راشي چې د افغان امنیتي ځواکونو له خوا ملکي وګړوته درسیدلي تلفاتو ادعا ګانې وپلټي، د مخنیوي لارې چارې یې پیل او دې ته ادامه ورکړي.

ځانګړی استازي ښاغلي یان کوبیش وویل:" دا چې امنیت راوستلو رهبري مسؤلیت د افغان امنیتي ځواکونو په لاس کې دی، نو دوي د ملکي وګړو د ساتنې لپاره ډیر مسؤلیت لري. افغان امنیتي ځواکونو لپاره دا اړینه ده چې ټول هغه ممکنه تدابیر ونیسي چې ملکي وګړي د جګړې له زیان څخه وساتي."

د نړیوالو نظامي ځواکونو د هوايي عملیاتو په ترڅ کې ۱۸۲ ملکي تلفات (۱۱۸ ملکي وګړو مړینه او د ۶۴ ټپي کیدنه) منځته راغلي، چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله ۱۰ سلنه زیاتوالي په ګوته کوي او د دولت پلوه ځواکونو ته منسوب د ټولو تلفاتو ۱۹ سلنه جوړوي. د هوایی عملیاتو په ترڅ کې رامنځته شوي تلفاتوتقریباً نیم یي ښځې او ماشومان وو. د ملکي وګړو دا رنګ تلفات په تیره بیا چې د هوایي عملیاتود تیري په ترڅ کې منځته راځي، د دې اړتیا په ګوته کوي چې نړیوال نظامي ځواکونه دې د برید او ښکیلتیا ترمخه احتیاطي تدابیرو ته له سره کتنه وکړي.

که څه هم په ډیرو ولسوالیو کې ځایي ټولنو د سیمه ییزو پولیسو د شتون له کبله د ښه امنیت راپور ورکړی دی، خو یوناما دسیمه ییزو پولیسولخوا ۱۲۱ ملکي وګړو ته تلفات (۳۲ ملکي وګړو مړینه او د ۸۹ ټپي کیدنه) منځ ته راغلي دي، چې ۲۰۱۲ کال په پرتله سیمه ییزو پولیسو ته منسوب تلفاتو کې درې چنده ډیروالي ښیي. په دې کې د سیمه ییزو پولیسو لخوا په ځینو سیموکې د محکمې پرته اعدامونو، مجازات کولو، ګواښ، ډارولو، ځورولو او ناقانونه تالاشي ډیرې پیښې هم شاملې دي.

د کورنیو چارو وزارت کې د سیمه ییزو پولیسو ریاست د راپور له مخې ، په ۲۰۱۳ کال کې د سیمه ییزو پولیسو پر ضد نوموړي ریاست له ۱۰۰ څخه ډیری پیښی څیړلې، چې له دی جملې ۵۹ پېښی په ولایاتوکې نظامي څارنوالی ته سپارل شوي دي. که څه هم دا قدم د ستایلو وړدې، خو د قانوني تعقیب، محکوم شویو، د دندې څخه دلرې کیدو او یا نورو اجرااتو په اړه مالومات موجود نه دي. یوناما د سیمه ییزو پولیسو د سرغړونې په صورت کې د قانوني حساب ورکونې لپاره د زیاتو هلوځلوغوښتونکې ده.

یوناما د دولت پلوه وسلواله ډلو له خوا د بشري حقونوڅخه دسرغړونې ۳۹ پیښی ثبت کړي چې په ترڅ کې یي ۵۵ ملکي وګړو (۱۸ مړینه او د ۳۷ ټپي کیدنه) ته تلفات رسولي دي . ډیری پېښې په هغه سیموکې رامنځ ته شوې چې هلته وسله والو ډلو زیات قوت او اغیزدرلود، اوروزګان، کندوز، فاریاب، بغلان او جوزجان ولایتونه په کې شامل دي. راپو په افغان دولت غږ کوي چې د داسې ډلو د منحلولو او بې وسلې کولو کوښښونه لا زیات کړي.

یوناما د جګړې څخه چاودیدونکو پاتې شونو په نتیجه کې د ۳۴۳ ملکي وګړو تلفات ( ۱۴۴ ملکي وګړو مړینه او ۲۲۹ ټپي کیدنه) مستند کړې، چې دا د ۲۰۱۲ کال په نسبت ۶۳ سلنه ډیر والی ښیي. ددې پیښو ډیر ګوني قربانیان ماشومان وو. د جګړې څخه د چاودیدونکو پاتې شونو له امله ملکي تلفاتو کې ډیر لوړ والي د ځمکنیو ښتوکې زیاتوالي سره په یو وخت پیښ شوي دي. دویم ممکنه لامل یې د ایساف د نظامي اډو او د ډزو تمریناتو ځایونه په بیړه تړل وو، چې ډیری یې د تړلو تر مخه د ناچاوده توکوڅخه په بشپړ ډول پاک شوی نه وو. د یوناما راپور په ایساف او هغه هیوادنو چې ایساف ته یي خپل عسکر ورکړي، غږ کوي چې د ایساف خطرناکې سیمې په ښبه او چې هر څومره ژر چې ممکنه وي له چاودیدونکو پاتې شونو یي تصفیه کړي.

**په جګړه کې د ښکېلو خواو تر منځ ځمکنۍ نښتې**

د یوناما راپور د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ۲،۳۲۷ ملکي وګړو تلفات ( ۵۳۴ ملکي وګړو مړینه، ۱،۷۹۳ ټپي کیدنه) مستند کړې ده، چې ۲۰۱۲ کال په پرتله یکې ۴۳ سلنه لوړوالی راغلی، چې دا د ۲۰۱۳ کال کې یو نوی رحجان وو او افغان وګړي یي له ډیر خطر سره مخامخ کړي وو.

په دې راپورکې د ځمکنۍ ښښتو له امله منځته راغلي ټولټال تلفاتو ۴۴ سلنه د دولت ضد وسلوالو ته ، ۱۶ سلنه دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي دي او ۳۸ سلنه يې له دواړو ښکيلو ډلو څخه يو ته هم منسوب شوې نده او پاتې دوه سلنه نامالوم دي. دځمکنۍ ښښتو ۳۸ سلنه ملکي تلفاتو ( ۱۵۹ مړه، ۷۱۸ ټپيان او ټول ۸۷۷ ملکي تلفات ) ګرم لورى ندى په ګوته شوى. د يوناما راپور موندني په ګوته کوي چې په ۲۰۱۳ کال د جګړې دغه تت محرک په افغانستان کې د جګړې بدليدونکې بڼه منعکسوي چې مخ په ډيريدونکي ډول په ملکي او ګڼه ګونې سيمو ته وړل شوى او ملکي خلک د متقابلو ډزو په منځ کې بند پاتې شوي دي.

د ۲۰۱۳ کال راپورکې يوناما په افغانستان کې د سياسي او امنيتي انتقال سر مل په ملکي تلفاتو کې لوړوالي د جګړې د ښکېلو خواوڅخه د نوي او تينګې ژمني غوښتنه کوي چې د ملکي افغانان خوندي ساتنې لپاره په ۲۰۱۴ کال کې لا نورډير اقدامات وکړي. راپور په دې ټينګار کوي چې ټولي خواوې په ځانګړي ډول د دولت ضد عناصر حتما خپل قانوني مکلفيت سره په مطابقت کې نور ډيرڅه ته اړتيا لري چې د ملکی وګړو مرګ ژوبلې مخنيوى وکړي او د ملکي خلکو خونديتوب نور تقويه کړي.
د يوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې جورجټ ګينون وويل**: "** د ملکي وګړود هرې يوې پيښې شاته د يو سړي، د يوې ښځې او د يو ماشوم ژوند دي او يوې افغانې کورنۍ او ټولنې ته ډيرې سختې او ناخوالې راوستلى شي. د ملکي وګړو دناخوالو کمونه، د ملکي وګړو لړ تلفات او د بشري حقونو خونديتوب کې ښه والى د د ۲۰۱۴ سياسي انتقال، د ښه ثبات او د سولې د هلو ځلو لپاره بايد مهم معيارونه وي.**"**

**د يوناما د ۲۰۱۳ کال د کلني راپور " په وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه" څخه ځينې انتخاب شوې د افغان ملکي وګړو خاطرې**

*سهار مهال نږدې لس بجې وې چې زه په کور کې وم. ناڅاپي د ټوپک ډزې شوې او بيا لويه چاودنه وشوه. زموږ ټول کور ولړزيد اود خاوروپه دوړو کې پټ شو. ښځو او ماشومانو چيغې وهلی ..... د دې لړ ورروسته بله چاودنه وشوه چې ځان وژونکي بريدګر په ځان پسی تړلې چاوديدونکي مواد وچول. د باندې ما ته زما تره او تره زامنو د مرستې لپاره چيغې وهلې خو زه ورسيدلی نشوم. وروسته مې د کور په انګړ کې د يو مړ ماشوم جسد وموند. کله چې په پوړيو پورته وختلم نو د کور په چت مې د ماشومانو د بدن غړي وموندل . د ګاونډي په کور کې مې پنځه ماشومان وژل شوي وو.*

د ننګرهار ولايت په جلال اباد ښار کې د دولت ضد عناصرو په ډله ييز بريد کې د شپږو قربانيانو خپلوان، ۴ اګست، ۲۰۱۳

*د ميلې ورځ وه او ما غوښتله چې بازار ته لاړ شم او ملګرو سره په رستورانت کې د غرمې ډوډۍ وخورم. زه د کورنه لا يو قدم هم نه وم تللى ، چې ناڅاپه د يوې چاودنې غږ مې واوريد. ما د مارکيټ خواته منډه کړه او ومې ليدل چې قربانيانو ژړل او د مرستې لپاره يې چيغې وهلې. ما د خپل تره زوي پيدا کړ او هغه مې د ميمنې روغتون ته ووړ، خو د شپې په دوو بجو له زخمونو مړ شو.*

د د دولت ضد عناصرو له خوا د ليرى څخه کنترول کيدونکو چاويديدونکو توکو په پايله کې په ميمنه، فارياب کې د يو قرباني د تره زوي، فبروري ۲۰۱۳

*مور د خپلې سیمې د نیستۍ په هکله خبرې کولې، چې یو دم په موټرسایکلونو سپرو کسانو موټروان ته وویل چې ودرېږي. د دوي یو وسله وال تن موټر ته سر راښکاره کړ او له لږ وخت وروسته ، دوي په مور ډزې وکړې. ما ته اوس نه یادیږي چې دوي د څومره وخت لپاره ډزې وکړې، خو کله مې چې سترګې پرانیستې، نو زما ټول همکاران د موټر په چوکیو کې مړه پراته وو. ما وکړای شو چې د موټر نه کوز شم او د مرستې غوښتنه مې وکړه، خو خبره له وخته تیره وه. زمور یو همکار ژوندی پاتې وو خو روغتون ته د وړولو په و خت په لاره کې مړ شو.*

د فاریات په پښتون کوټ ولسوالۍ کې د طالبانو له برید څخه روغ رمټ وتلي یو تن، فبروري ۲۰۱۳

*کله چې سیمې ته سیمه ییز پولیس را ورسیدل، نو زما موټروان زوي زموږ د خپلوانو کره وو. سیمه ییزو پولیسو زما زوي په سر کې په ډزو وویشت او مړیي کړ. د یو پلار همیشه ارزو دا وي چې خپل زوي یې ژوندی وي او که مړ هم وي، خو چې ټوټې ټوټې نه وي. دا ډیر ناوړه جنایت وه.*

یو پلار چې زوي یې د سیمه ییزو او ملي پولیسو د تلاشۍ په عملیاتو کې مړ شو، جولای ۲۰۱۳

یوناما د ۲۰۱۳ کال کلنی راپور په "وسلواله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه" موندني د افغانستان حکومت، طالبانو او د ایساف سره شریکې کړې. د ټولو خواو څرګندونې څنګه چې مناسبه وه په غور سره وکتل شوې او په راپور کې ورته اشاره وشوه. یوناما دې د چمتو ده چې له د جګړې له ټولو ښکیلو خواو سره همکاري وکړي چې د دوي د ملکې وګړو د ساتنې هلو ځلو ملاتړ کوي.

## د یوناما د ۲۰۱۳ کال د کلني راپور " په وسلواله جګړه کې د ملکي وکړو ساتنه" دجګړې ښکیلو خواو ته سپارښتني

### د دولت ضد عناصرو ته

- د تعبیه شوي چاودیدونکو توکو بې توپیره او غیر متناسب استعمال ودروئ او په ځانګړی ډول په هغه سیموکې چې ملکیانو لپاره ځانګړي وي.
- د مذهبي اشخاصو په شمول د ملکي خلکو، عدلیي چارواکو او دولتي مامورینو هدفي وژنې ودروئ.
- په ملکي ځایونو کې په شمول د هوټلونو، عمومي سړکونو، قونصلګري اومحکمو او ملکي حکومتي دفترونو څخه بهر او دننه ټول بریدونه ودروئ.
- د نړیوال قانون سره په مطابقت اود برید په وخت د توپیر، تناسب او احتیاط د اوصولو په رڼاکې د ملکي وګړو د تلفاتو مخنیوی وکړئ او ملکي وګړي د نړیوال بشردوستانه قانون سره سم تعریف کړئ.
- داسې لایحې او لارښونې پلي کړئ چې غړو ته د ملکي تلفاتو د مخنیوی اود هغې څخه د د ډه کولو لارښونه کړی وي او هغه غړو سره محاسبه وکړئ چې ملکي وګړي په نښه کوي یا یې وژني او ټپي کوي.

### د افغانستان حکومت ته

- د چاودیدونکو توکو پر ضد د ستراتیژۍ د بشپړ پلي کولو لپاره دې ټول اړین منابع ورکړي.د افغان

امنیتي ځواکونو ظرفیت لوړوالي ته دې لومړیتوب ورکړل شي چې د تعبیه شوی چاودیدونکو تو پر ضد عملیات په اغیزمن ډول ترسره کولو قومانده او کنترول په لاس کې واخلي او د استثمار په شمول چاودیدونکي توکي له منځه یوسي.

- د تاکتیکي لاربښودونو د بیا کتنې او تقویه کولو د لارې دی د ځمکنی نښتو اوصول او نور پروسیجرونو په ذریعه د ځمکنی عملیاتو په وخت د ملکي تلفاتو کمښت د پاره نور کوټلي ګامونه واخلي، او د ملکي خلکو د خوندی ساتنې او تلفاتو کې د کمښت له امله د افغان امنیتي ځواکونو د مناسب روزنې او منابع چمتو کولو ډاډ ورکړل شي.
- په وخت او رښې پلټنې ترسره کول ، او افغان امنیتي ځواکونو ته منسوب د ملکي تلفاتوپېښو دقیق تعقیب دې ډاډمن کړای شي، او د حکومت هغه څانګې دې نورې تقویه شي چې د ښه نظارت او افغان امنیتي ځواکونو سره د حساب کولو وړتیا ولري په هغه صورت کې چې ملکي تلفات یې اړولي وي.
- د افغان امنیتي ځواکونو پر ضد د بشری حقونو سرغړونې او ناوړه چلن ټول ادعا دې وڅیړل شي، او ګرم پیژندل شوي کسان دې د افغانستان او نړیوال قانون سره سم عدلي تعقیب او مجازات شي.
- دسیمه ییزو پولیسو هغه ډلې دی له دندې څخه ګوښه کړي چې د معافیت سره یې د بشری حقونو سرغړونه او جرمونه کړی او ورسره دی د سیمه ییز پولیسو پر ضد د بشري حقونو د سرغړونې او جرمونو ټولي ادعاګانې عدلي تعقیب او وڅیړل شي.
- غیر قانوني ټولې وسلوالې ډلې د ملغی او د بی وسلې کیدو پروسه دی ادامه ومومي.

**نړیوال نظامي ځواکونه**

- افغان امنیتي ځوکونو سره لازیاته مرسته وکړئ تر څو د هغوی پوره منابع په لاس کې ولري او ښه مجهز او وروزل شي چې د تعبیه شوي چاودیدونکو توکو پر ضد عملیات په اغیزمن ډول ترسره کولو قومانده او کنترول په لاس کې واخلي او د استثمار په شمول چاودیدونکي توکي له منځه یوسي.
- د ملکي وګړو د زیانمنیدو د مخنیوي لپاره دې اغیزناک تدابیرونه ونیول شي چې د نظامي اډو او ډزو د تمریناتو ځایونه چې د ایساف د عملیاتو د پېل وروسته ترل شوي د هغه ځای ناچاوده توکو نقشه کښل، اوپه نښه کولو سربیره بې پاک کړي.
- ایساف او افغان امنیتي ځواکونوکي داسی یو میکانیزم رامنځ ته کړی چې د هوایي اوځمکني عملیاتو څخه پاته ناچاوده توکو د موجودیت په اړه مربوطه چارواکي خبرشی او د خطرناکه سیمو په نښه کول او تصفیه کول ډاډمن شي.
- د هوایي تهاجمي برید دپاره د نښتې څخه د مخه باید ټول ملحوظات او احتیاطي تدابیر په بشپړ ډول بیا وکتل شي اونور هغه میکانیزمونه مشخص شي چې ملکي تلفات راکم کړي .
- هغه مهال چې ملکي وګړو ته د نړیوال نظامي ځواکونو یا استخباراتو لخوا تلفات واوړي ، د داسی عملیاتو په پای کې د افغانستان حکومت په ګډه همکاری سره عملیاتو ته بیا کتنه او وپلټل شي ، او د حساب ورکونې ، د ښه عملیاتو بیلګې او د خساری د جبران په موخه دې اړین ګامونه واخستل شي.


د ملکي وګړو مرګ ژوبله
د ۲۰۰۹جنورۍ څخه تر دسمبر ۲۰۱۳ پورې
6000
5000
4000
3000
2000
1000
0
2412
3556
2792
4368
3133
4706
2768
4821
2959
5656
2009
2010
2011
2012
2013
وژل شوي
ټپي شوي


په جګړه کې دښکېلو خواو د لوري د ملکي وګړو تلفات
جنوري ۲۰۰۹ نه تر دسمبر ۲۰۱۳
2500
2000
1500
1000
500
0
1533
573
306
2037
429
326
2208
519
406
2180
323
265
2311
341
307
2009
2010
2011
2012
2013
دولت ضد عناصر
دولت پلوه ځواکونه
نور




افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

---

All media contact details are online at: http://unama.unmissions.org